بسم الله الرحمن الرحيم

# د میانمار پوځي کودتاه پایلې
## (ژباړه)

**پوښتنه:**

«د فبروري لومړۍ ورځې پوځي کودتا راهیسې، د میانمار لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړې استازي کریسشن سکرنر برګنر چهارشنبې په یوه ویډیويي کنفرانس کې په یوه ورځ کې د ۳۸ کسانو وژنه د دې هیواد لپاره یوه «خونړۍ ورځ» اعلان کړه. د میانمار امنیتي ځواکونو لاریونوال، چې د پوځي حکومت پر ضد یې لاریون کاوه، په ډزو ویشتل....» سرچینه: (الجزیره.نیټ، ۲۰۲۱/۳/۳)

په پام کې وه چې پارلمان په ۲۰۲۱/۲/۱ په میانمار (برما) کې خپله لومړنۍ ناسته ترسره کړي، چې ناځاپه پوځ پوځي کودتا وکړه. ولسمشر، لومړی وزیر، ګڼ شمېر وزیران او سیاستوال ونیول شول. امریکا د کودتا پر وړاندې سخت غبرګون وښود او پر پوځ یې ږغ وکړ، چې په بېړه واک ستون کړي. د دې کودتا تر شا د چا لاس دی؟ امریکا ولې له غوسې ډک غبرګون وښود؟ او په میانمار کې د دې کودتا اغېز به پر ځورول شویو مسلمانانو څه وي؟

**ځواب:**

د لاندې موضوعاتو په څېړلو سره به غوڅ ځواب ترلاسه کړو:

1. تر ټاکنو یوه اونۍ مخکې، د پوځ او حکومت ترمنځ لفظي نانډرۍ کښته او پورته کېدلې، د میانمار د پوځ مشر مین انګ حالینګ له یوې شخصي رسنۍ سره په مرکه کې د ټاکنو کمیسیون پر صلاحیت او ناپیلیتوب باندې شک څرګند کړ، هغه یې تورن کړ چې د رایې ورکولو پروسې مخکې یې په پراخه کچه د قوانینو او طرزالعملونو څخه سرغړونه کړې ده. په غبرګون کې یې د حکومت یوه ویاند د پوځ مشر تورونه بې بنسټه وګڼل او خبرداری یې ورکړ چې هغوی له اساسي قانون څخه سرغړونه کوي- اساسي قانون صراحت لري؛ «ملکي حکومت باید د پوځ او ملکي مامورینو له سیاسي تړاو څخه پاک وي» او په ښکاره یې پر پوځ نیوکه وکړه چې اشاره یې کړې وه؛ که چېرې د ډیموکراسۍ لپاره ملي لیګ ګوند په یادو ټاکنو

کې بريالی شي، پوځ به بې تفاوته پاتې نشي... سرچينه: (الحدف نيوز پورټل، ۲۰۲۱/۱/۱۱). له دې ښکارېده چې که ملي ليګ ټاکنې ګټي پوځ د کودتا لپاره چمتوالی نيسي...

2. کله چې ټاکنې ترسره شوې، د انګ سان سوچي د ډيموکراسۍ لپاره ملي ليګ ګوند (NLD) د دويم ځل لپاره د نومبر ۲۰۲۰ م کال ټاکنې په زيات اکثريت ٪۸۳ سره ، ان د ۲۰۱۵م کال څخه په لړ زيات توپير چې ٪۷۵ رايې يې وې، وګټلې. خو د پيوستون او پرمختيا ګوند چې د پوځ له خوا تاسيس شوی دی د پارلمان له ۴۷٦ څوکيو څخه يوازې ۳۳ څوکۍ وګټلې. نو پوځ په ګواښونو پيل وکړ، ترڅو په دې موضوع کې خپل اهميت په ډاګه کړي او د اساسي قانون له مادو څخه يې په ۲۰۰۸ م کال کې زياتی کړی و، چې دوی ګټه ترې پورته کړي او د انګ سان سوچي پخواني حکومت منلې هم وې، چې له مخې يې په پارلمان کې ٪۲۵ څوکۍ پوځ ته ځانګړې شوې او د دفاع، کورنيو چارو او سرحدونو وزارتونه بايد په مستقيم ډول په پوځ پورې تړاو ولري او په ايالاتونو کې پوځ هر وخت چې لازمه وګڼي لاسوهنه کولی شي. هغه له همدغه امتياز څخه ګټه پورته کړه او ساعتونه مخکې د نوي پارلمان له پرانيستنې څخه چې خپله لومړۍ ناسته ترسره کړي او د تېرو ټاکنو پايلې تصويب کړي، په کودتا لاس پورې کړ. ولسي خلکو اعتراضونو ته مخه کړه او تر ټولو خونړۍ ورځ چهارشنبه ۲۰۲۱/۳/۳ وه. د فبروري لومړۍ د پوځي کودتا له پيل راهيسې، د ميانمار لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړې استازې کريسشن سکرنر برګنر د چهارشنبې په ورځ په يوه مجازي مطبوعاتي کنفرانس کې په يوه ورځ د ۳۸ کسانو وژنه، د دې هيواد لپاره يوه «خونړۍ ورځ» اعلان کړه. د ميانمار امنيتي ځواکونو لاريونوال، چې د پوځي حکومت پر ضد يې لاريونونه کول، په ډزو ويشتل....» سرچينه: (الجزيره.نيټ، ۲۰۲۱/۳/۳). که څه هم اعتراضونه کم شول؛ خو زور او ځورړ يې هم هغسې پاتې شو.

3. د پوځ مشر، مشر کودتاچي، جنرال مين انګ حلينګ او د پوځ درې نور قوماندانان په برما کې «د بشري حقونو په سرغړونو کې د ښکېلتيا» له امله له ډيمسبر راهيسې د امريکا د بنديزونو په نوملړ کې دی. نوموړی د خپل راتلونکي برخليک په تړاو اندېښنه لري که تقاعد شي نو داسې يو ځواک نشته چې د ده ساتنه وکړي. نوموړی د پوځ د مشر په توګه بايد په ۲۰۱٦ م کال کې تقاعد شوی وای، خو دی وتوانېد چې د واک موده تر ۲۰۲۱ اوږي پورې وغځوي. داسې ښکاري چې نوموړی غواړي له تقاعد وروسته د انګليس د مزدور په توګه په سياسي رول کې راڅرګند شي او ځينو د ده نوم د ولسمشر کېدو لپاره ونوماوه او پوځ ۲۰۲۱/۲/۱ م د واکمنۍ پوځي شورا تر ناستې وروسته په غېر مستقيم ډول په خپله رسمي ويبپاڼه کې په ډاګه کړه: «د پوځي ځواکونو لوی درستيز جنرال مين انګ حلينګ ژمن دی، چې ريښتنی

ټولشموله ډيموکراتيک سيسټم په ښه ډول وچلوي» د هېواد ولسمشری کېدو لپاره د ده د کمپاين يوه برخه ده...

4. له همدې امله، پوځ چې د ۱۹۶۲م راهيسې، پر حکومت ژوره اغېز ه لري، د ټاکنو پايلې يې ونه منلې او د ټاکنو کميسيون، چې مشر يې انګ سان سوچې ټاکلی و، تورن کړ چې لس مېليونه باطلې رايې يې شمېرلي دي، خو سوچې ياد تورونه بابيزه وګڼل او د پارلمان لومړنۍ ناستې ته يې چمتوالی نيوه. د پوځ مشر ګواښ وکړ چې نوموړی به د اساسي قانون د مادې له مخې بېړنی حالت اعلان کړي او واک به په خپله ولکه کې واخلي. د نوي پارلمان د لومړنۍ ناستې ساعتونه مخکې د پوځ مشرانو له سوچې وغوښتل چې غونډه وځنډوي، خو نوموړي او د ګوند مشرانو يې چې په تېره نومبر مياشت کې ټاکنې په لوی اکثريت سره ګټلي وې د هغوی وړانديز ونه مانه... نو پوځ واک په خپل لاس کې واخيست او بېړنی حالت يې اعلان کړ، د حکومت سلاکاره انګ سان سوچې او ولسمشر وين مېنټ يې په کور کې نظر بند کړل او د هغوی پر ضد يې جرمي قضيې پرانيستلې.
5. اصلي موضوع په ټاکنو کې د درغليو نه وه. دواړو غاړو نه غوښتل چې د خپلو ګوندونو د ملاتړ لپاره په ټاکنو کې درغلي وکړي. اصلي موضوع د امريکا او سوچې له يوه لوري او برتانيه او د پوځ مشر د بل لوري ترمنځ سياسي مبارزه ده. امريکا د سوچې ملاتړ کوي او غواړي چې ميانمار د چين پر وړاندې يو خنډ وي... برتانيې د هند ټاپوزمې د نيواک په وخت کې د برما پوځ جوړ کړ، ترڅو ميانمار هم د خپل اغېز په ساحه کې راولي او ياد اغېز په مستقيم يا غېر مستقيم ډول دوام درلود، تر هغه چې امريکا د سوچې ګوند ملاتړ پيل او په ۲۰۱۵ م ټاکنو کې ستره بريا ترلاسه کړه او حکومت يې تشکېل کړ، خو پوځ له هره اړخه د ۲۰۰۸ م اساسي قانون له مخې ياد حکومت څاره. کله چې ياد ګوند په ۲۰۲۰ م ټاکنو کې ٪۸۳ رايې ترلاسه کړې، برېټانيه اندېښمنه شوه، چې ګواکې د امريکا اغېز ثبات مومي، نو پوځ يې کودتا ته وهڅاوه او هم هغسې وشول. اصلي موضوع د امريکا او برېټانيې سياسې ډغرې دي او ټاکنې يوازې د يادې موضوع د پيل ټکي دي. هغه کسان چې سياسي ليدلوری او بصيرت لري په دې موضوع پوهېږي... د ۲۰۱۲/۶/۲۶ م د پوښتنې په ځواب کې موږ داسې يادونه کړې وه: «د برما رژيم په تېر کې په مستقم ډول د هغو جنرالانو له لوري اداره کېده، چې پوځي جامې يې په تن وې او اوس د متقاعدو جنرالانو له لوري چې ملکي جامي يې په تن دي اداره کېږي، چې تراوسه پورې برېټانيې ته وفاداره دي. برېټانيې په پټه او ښکاره، مستقيم او غېر مستقيم ډول د خپلو مزدورانو په مټ له هند څخه د ياد رژيم ملاتړ کاوه. همدارنګه برېټانيې نه يوازې په دې وروستيو کې بلکې له هغه وخت راهيسې، چې اسلامي نظام په دې

هېواد کې پای وموند، د بودایانو له لوري د مسلمانانو د وژلو او ځورلو ملاتړ کاوه... امریکا د ملي ډیموکراتیک ګوند چې انګ سان سوچي یې مشري کوي ملاتړ کوي، هغې په ۱۹۹۱ م کې د نوبل د سولې جایزه وګټله. د هغې پلار انګ سان له برتانیې سره مخالف و او په ۱۹۴۷ م کې ووژل شو... امریکا په میانمار کې له اوسني وضعیت څخه راضي نه ده...)

6. له همدې امله، د امریکا غبرګون سخت و، د سپینې ماڼۍ ویاندې جن ساکي وویل: (امریکا له هرې هغې هڅې سره مخالفه ده، چې د ټاکنو پایلو ته بدلون ورکړي یا د میانمار د ډیموکراتیک لېږد خنډ شي او د هغوی پر ضد به اقدام وکړي، چې د یادو اقداماتو د شاتګ لامل شي... سرچینه: (بي بي سي، فرانس پریس ۲۰۲۱/۱/۱). د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکین په میانمار کې «د ټولو حکومتي چارواکو او مدني فعالانو د خوشي کولو غوښتنه وکړه او زیاته یې کړه: «پوځ باید په بیړه له یادو اقداماتو څخه پرشا شي...» سرچینه: (بي بي سي، ۲۰۲۱/۱/۱). د ختیځې اسیا لپاره د اوباما پخوانی ستر سلاکار ډانېل روسیل چې د انګ سان سوچي سره یې اړیکې جوړې کړې وې، د واک په زوره نیول یې په سیمه کې د ډیموکراسۍ لپاره یو ستر پر شاتګ وباله... سرچینه: (ای ایف پي، ۲۰۲۱/۱/۱). رویټر خبري اژانس د ۲۰۲۱/۲۰/۲ د یوه امریکایي چارواکي په حواله خبر ورکړ، چې د امریکا د لویو درستیزانو د کمیټې مشر جنرال مارک میلي هڅه وکړه چې د سپینې ماڼې په غوښتنه د میانمار له پوځ سره اړیکې ټینګې کړي؛ خو ونه توانېد او یاده اداره وایې «چې د میانمار پوځ له چین سره نیږدې اړیکې لري او له امریکایي پوځ سره یې اړیکې محدودې دي». له دې ښکاري چې د سوچي تر شا امریکا ده او په حقیقت کې په میانمار کې د امریکا ګټې له چین سره د میانمار په تړاو دي. ځکه امریکا غواړي چې چین په هر اړخیز ډول مهار کړي او د ځمکني پراختیا مخه یې ونیسي، نو امریکا غواړي چې د برېټانیې نفوذ په یاد هېواد کې په ځانګړي ډول د هند په نیمه وچه کې ختم کړي، لکه څرنګه چې په ټولو سیمو کې همدغه کار کوي.
7. سربېره پردې، د ۱۹۶۲ م د لومړي پوځي کودتا راهیسې، برېټانیې د خپلې سیاسي ځیرکتیا له مخې په برمایي پوځ کې خپل مزدوران چین ته نیږدې ښیي او هڅه کوي چې د کمونیستانو څخه یاد حقیقت پټ کړي. د برېټانیې مزدوران خپل ځان روسیې ته هم نیږدې ښیي او له همدې امله هڅه کوي چې د امریکا پر وړاندې روسیه او چین هم د برمایي رژیم ملاتړ وکړي. له همدې امله کله چې د سوچي حکومت نسکورولو په موخه کودتا ترسره شوه، په دې تړاو د برېټانیې غبرګون پڅ و او د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته یې د یوې مسودې په سپارلو سره کودتا غندلې او د واک ستنول یې غوښتي و، ځکه هغه پوهېده چې چین د پوځي حکومت ملاتړ کوي او یاده مسوده به د چین له لوري رد شي. په ملګرو ملتونو کې د

برېټانيې سفيرې بربارا ووډوارډ په نرمه ډيپلوماتيکه لهجه د مسودې پرېکړه ليک د معرفي کولو په وخت کې وويل: (موږ به حالت څارلو ته دوام ورکړو او هغه وخت به اقدام وکړو چې شورا يوې هوکړې ته ورسېږي... موږ غواړو چې د خلکو د ډيموکراتيکي ارادې درناوی وشي...) سرچينه: (عربي ۲۱ چينل، ۲۰۲۱/۲/۲). کله چې پر ۲۰۲۱/۲/۲ برېټانيې امنيت شورا ته مسوده وړاندې کړه، چين يې مخالفت وکړ او له پيل څخه يې د کودتا په ملاتړ څرگند دريځ اعلان کړی و. د چين د بهرنيو چارو وزارت وياند وانگ وينبين وويل: [«موږ پرې خبر يو څه چې په ميانمار کې پېښ شول او د حالت د لا ښه پوهېدو په درشل کې يو. چين د ميانمار صميمي گاونډی دی. موږ هيله لرو چې ټولې غاړې به په ميانمار کې د اساسي قانون او نورو قوانينو په چوکاټ کې خپلو اندونو ته بدلون ورکړي او سياسي او ټولنيز ثبات به وساتي» سرچينه: (شينهوا، ۲۰۲۱/۲/۱).

همدا رنگه روسيې هم کودتا ونه غندله، د روسيې د بهرنيو چارو وزارت وويل: «موږ هيله لرو چې د هيواد دوامداره اجتماعي-اقتصادي پرمختيا ته په کتو او د اوسني قانون سره سم د سياسي خبرو اترو له لارې وضعيت په سوله ييز ډول حل شي...» سرچينه: (روسي نووستي، ۲۰۲۱/۲/۱). نو چين او روسيه دواړه له پوځ سره ودرېدل او د برېټانيې چل او فريب کامياب شو!

8. په ميانمار کې د مسلمانانو په تړاو، په ۲۰۱۷ م کې مشر کودتاچي د مسلمانانو د ځورولو او بېځايه کولو مسوول دی. د ۲۰۲۱ فبروي په لومړۍ د ملگرو ملتونو وياند ستيفان ډوجاريک وويل: په راخين ايالت کې ٦سوه زره روهينگيايان شته، چې له ډلې ۱۲۰زره په پنډغالو کې بند پاتې دي، په ازاد ډول گرځيدلی راگرځيدلی نشي او لومړنيو روغتيايي او ښوونيزو خدمتونو ته ډېر محدود لاسرسی لري... موږ اندېښمن يو، چې په ميانمار کې وروستۍ پېښې به د هغوی لپاره نور هم حالت خراب کړي» سرچينه:(رويټر، ۲۰۲۱/۲/۱). د يادونې وړ ده، چې د مسلمانانو په ځورولو کې دواړو غاړو لاس لاره، که څه هم طريقو يې توپير درلود. موږ د ۲۰۱۲/٦/۲٦ پوښتنې ته په ځواب کې ويلي وو: «له دې سره سره چې برما د امريکا او برتانيې د سيالۍ سياسي ډگر دی، غرب پرته له دې چې بشري حقونو ته پام وکړي، هغوی د بودايانو له لوري د مسلمانانو ځورولو ملاتړ کاوه، يوازې کله ناکله به يې تشې ويناپاڼې صادرولې» دا هغه څه وو چې پېښ شول. کله چې پوځ د متعصبو بودايانو په ملتيا چې مشري يې متعصبو راهبانو کوله په ۲۰۱۷ م کې مسلمانان وځورول، امريکا هېڅ ونکړل او د هغې مزدورې د سولې نوبل جايزه گټوونکې سوچي د پوځ له لوري د سل گونو زرو مسلمانانو د ځورونې او جبري ايستنې عملياتو دفاع وکړه. د يادو بې ځايه شويو روهينگيايي مسلمانانو شمېر ۷سوه زرو ته رسېد، چې له خپلې سيمې اراکان

ځخه بې ځایه شول او هغوی د دوی شتمني او ځمکې غصب کړې. په ۲۰۱۷/۹/۱٦ د برمايي پوځ مشر جنرال مین انګ حلینګ پر خپله فېسبوک پاڼه د مسلمانانو پر ضد د برېټانيې او اروپا ملاتړ ته په پام سره، کرکجن الفاظ وکارول، د نړیوالو غبرګونونو په پام کې نیولو پرته، د دوی له ژوند، شتون او حق څخه انکار وکړ، هغه ولیکل: «هغوی غوښتل چې د روهینګیایانو په توګه په رسمیت وپېژندل شي، هغه ډله چې هېڅکله په میانمار پورې تړاو نلري». نوموړي دوی بنګالیان وګڼل او زیاته یې کړه، «د بنګالیانو موضوع یوه ملي موضوع ده او موږ د دې موضوع حقیقت معلومولو په موخه د نظرونو یووالي ته اړتیا لرو.»

پوځ وویل: «د راخین ایالت شمال کې د پیل شویو عملیاتو موخه د روهینګیایي بلواګرو شړل دي، چې د اګیسټ ۲۵ مه یې د پولیسو پر پوستو بریدونه وکړل...» سرچینه: (بي بي سي، ۲۰۱۷/۹/۱۷) او بي بي سي زیاته کړه: «د پوځ مشر حلینګ په ۲۰۱٦ م په نومبر کې له اروپا څخه د پوځي قومندانانو کنفرانس کې د ګډون په موخه لیدنه وکړه او په اروپا کې ورته هرکلی وویل شو. دغه راز نوموړی ان په ایټالیا او بلژیک کې له هیڅ ډول نیوکې سره مخ نشو.) غرب په برما کې د مخالفو غاړو په ملاتړ سره هلته د مسلمانانو د وژلو هېڅ پروا نه کوي او په بوسنیا او نورو سیمو کې د مسلمانانو پر ټولوژنې سترګې پټوي، دوی د استعمار په دور کې هم مسلمانان قتل عام کړل او اوس د یهودي ادارې، چې د فلسطین خاوره یې اشغال کړې ده، ملاتړ کوي. یهودي ادارې ګڼ فلسطینیان ووژل او له خاورو سره یې خاورې کړل او د دوی تر څار لاندې یاد کار ته دوام ورکوي. هره غاړه د مسلمانانو له بدې ورځې څخه د خپلو سیاسي اهدافو په موخه ګټه پوره کوي، کله چې لازمه وګڼي. امریکا د مشر کودتاچي په ګډون د میانمار پر ځینو پوځي مشرانو بندیزونه په دې موخه ولګول چې هغوی د انګلیس مزدوران دي او د امریکایي نفوذ مخالف دی، نه په دې موخه چې دوی مسلمانان ووژل او له خاورو سره یې خاورې کړه. که نه، امریکا باید په لومړۍ وزیرې سوچي بندیزونه لګولی وای چې د مسلمانانو ټولوژنه یې توجیه کوله او د پوځ او بودایانو کړنو له غندلو یې ډډه کوله، خو هغې هېڅ سزا ونه لیده...

9. پر اسلامي نړۍ حاکم واکمنان د مسلمانانو هېڅ پروا نلري. دوی په تېر کې پر یاد رژیم باندې له فشار څخه کار اخیسته او اوسمهال له دوی څخه د مسلمانانو د ملاتړ هیله نه کېږي. هغوی د امریکا او غرب په تقلید کولو سره د ډیموکراسۍ پر ضد کودتا غندنه کوي او د مسلمانانو د ساتنې موضوع د دوی له مغزو څخه وتلې ده، ځکه د مسلمانانو سپر (خلیفه) نشته.

«**الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ**» [امام مسلم] ***په حقیقت کې امام سپر دی چې تر شا یې خلک جګړه کوي او په هغه سره ساتنه پکې کېږي.*** او که هغه آه د یوې روهینګیایي ښځې چې د «**وا معتصما**» ږغ یې کړی وای، پر وړاندې چوپ نه پاتې کېدای. هغه خو پرېږده چې په زرګونو له خپلو هېوادونو بې ځایه کېږي او

وژل کېږي. له همدې امله تر ټولو مهمه وجيبه د داسې سيستم د تاسيس لپاره جدي او په اخلاص کار کول پکار دي، چې د مسلمانانو ملاتړ به کوي، د الله سبحانه وتعالی په اراده، د نړۍ په هر گوټ کې به د محمد صلی الله عليه وسلم امت ياد سيستم غځوي. دغه سيستم د رسول الله صلی الله عليه وسلم په طريقه راشده خلافت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په زيري ورکولو سره فرمايي:

**«ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»** **«وروسته د نبوت پر طريقه خلافت وي...»** [امام احمد].

همدارنگه الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿وَيَقُولُونَ مَتَى هُوَ قُلْ عَسَى أَن يَكُونَ قَرِيباً﴾ [الاسرا: ۵۱]**

***ژباړه:*** *...دوی وايي، هغه به کله وي؟ ووايه، ښايي ژر به وي.*

**۱۴۴۲ هـ.ق، د رجب ۲۲ مه**

**۲۰۲۱ م، د مارچ ٦ مه**

**ژباړن:صديق احمدزی**